

# نابغه خوشحال

(د سیمینارد مقالو ټولګه)

تدوین او اهتمام: څېړنوال رفیع الله نیازی

نابغه خوشحال

تدوین او اهتمام: څېړنوال رفیع الله نیازی

۱۳۹۹ هـ . ش

# Genius Khushal

(A Collection of Articles of Seminar)

Prepared by: Associate Professor Rafiullah Niazi

2021

ISBN 978-9936-661-13-4

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# نابغه خوشحال

**(د سیمینار د مقالو ټولګه)**

تدوین او اهتمام: څېړنوال رفیع الله نیازی

۱۳۹۹ هـ . ش

**د کتاب ځانګړنې**

**دکتاب نوم:** نابغه خوشحال

**لیکوال:** بېلابېل پوهان

**تدوین او اهتمام:** څېړنوال رفیع الله نیازی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل- افغانستان

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹ هـ ل/ ۲۰۲۱ز

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦۱-۱۳-٤

**د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


سریزه.............................................................۱
د جلالتمآب ولسمشر محمد اشرف غني د وینا متن........................۵
د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رئیس د وینا متن........................۱۷
د کابل پوهنتون پیغام..............................................۲۳
د عبدالولي خان پوهنتون پیغام ....................................۲۹
د قابوس نامې او دستارنامې د موضوعاتو تقابلي جایزه ..................۳۱
د خوشحال بابا په خپل لاس د لیکلي دیوان د نسخې په اړه .........۵۱
د خوشحال بابا(رح) د ژوند وروستۍ لسیزه ..............................۵۷
د ځینو پېښو او حالاتو شننه او کره کتنه.................................۵۷
د خوشحال په کلام کې ځینې پښتانه، جنگیالي اتلان او مخور مشران...۷۷
د خوشحال سیاسي افکار تحقیقي او تنقیدي جایزه ...................۱۲۵
د دستارنامې روح................................................۱۴۳
د خوشحال خټک په سوات نامه کې د سوات د کلتور جایزه........۱۶۷
د لوی انسان د خاپوړو ځمکه .......................................۱۹۱
د خوشحال خان غزل او ښځه........................................۲۰۳
سېکولر خوشال.....................................................۲۱۱
د نابغه خوشحال خان خټک د لومړي زنداني کتاب"فراق نامې"........۲۲۳
گام نو در دانش کهن.............................................۲۴۵
د خوشحال خان خټك سیاسي فلسفه..............................۲۵۱
Khushal Khan Khattak and his Philosophy of Education ...................... ۲۶۹
د سیمینار پرېکړه لیک ..........................................۲۹۳

# سریزه

د پښتو ادب په تاریخ کې خوشحال خان خټک یو اوځار، نوښتګر لیکوال او شاعر تېر شوی، چې په نثر او نظم کې خپل ځانګړی ځای او سبک لري. د لیکوالۍ او شاعرۍ تر څنګ، خوشحال خان خټک یو قومي مشر، خان، سیاستوال، پوځي بولندوی او د پښتنو د ملي مبارزو یو نومیالی مبارز هم تېر شوی دی. د خوشحال خان خټک د تخلیقي اثارو له منځپانګې او موضوعاتو څخه د هغه د نبوغ او استعداد اندازه ښه څرګندېږي. د یوه حقدار او نامتو لیکوال، شاعر، مبارز سیاستوال او ملي مشر په توګه ددې خبرې سخته اړتیا ده چې بیا بیا د خوشحال د افکارو، کردار، مبارزو او د ژوندانه د نورو اړخونو هر اړخیزه څېړنه وشي. همدغه اصل ته په کتو د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د فرهنګپالې تګلارې او د جلالتمآب ولسمشر د لارښوونې پر بنسټ د افغانستان علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون په ګډه همکارۍ پر ۱۳۹۸ل کال د "نابغه خوشحال" تر سرلیک لاندې څلور ورځنی نړیوال علمي ـ څېړنیز سیمینار جوړ شو، چې د افغانستان او پښتونخوا د بېلابېلو علمي مرکزونو ګڼو پوهانو او مینه والو پکې ګډون کړی و.

له پښتونخوا څخه په دې سیمینار کې د پېښور پوهنتون د اسلامک اینډ اورینټل سټډیز پوهنځي رئیس پروفیسر ډاکټر معراج الاسلام ضیأ، د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ ډایریکټر پروفیسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، د ایډورډز کالج پخواني پروفیسر ډاکټر یارمحمد مغموم، د باچاخان پوهنتون پخواني ریس ډاکټر فضل الرحیم مروت، د اسلام اباد د قاید اعظم پوهنتون پروفیسر ډاکټر حنیف خلیل، د ملاکنډ پوهنتون د پښتو څانګې مشر پروفیسر ډاکټر علي خېل دریاب، د باچا خان پوهنتون پروفیسر ډاکټر محب وزیر، د پېښور د اسلامیه کالج پوهنتون پروفیسر

ډاکټر اباسین یوسفزي، د کویټې د پښتو اکېډمۍ ډایریکټر محترم سید خیر محمد عارف، پروفیسر درویش دراني، محترم رحمت شاه سایل، ډاکټر نیاز محمد عاجز، محترم شمس بونیري، ډاکټر محمد صادق ژړک، ډاکټر محمد علي دیناخېل، ډاکټر سمندر یوسفزي، ډاکټر عبدالحکیم شاه ختټک، ، میا وکیل شاه فقیرخیل، راشد ختټک، رازق فهیم، خداینور ناصر، اصف عمران، عارف تبسم، ډاکټر نورالبصر امن، ډاکټر سید ظفرالله بخشالي، عبدالله جان نورزي او ملک امان کاسي ګډون کړی و.

د دې سیمینار لومړنۍ او پرانستونکې غونډه د ۱۳۹۸لمریز کال د لیندۍ پر ۲۶مه نېټه له غرمې وروسته د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د چینایي ژبې د ډیپارټمنت په تالار کې د قران عظیم الشان د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه. د کابل پوهنتون رئیس ښاغلي پوهنمل حمیدالله فاروقي د پرانستونکې وینا په ترڅ کې د سیمینار د دایرېدو ګزارش وړاندې کړ. ورپسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قدرمن ولسمشر محمد اشرف غني پیغام ولوستل شو او ورپسې هغه پیغامونه هم ولوستل شول، چې د پښتونخوا د اکاډیمیکو موسسو او د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو او نورو فرهنګي ادارو له لوري د دغه سیمینار په ویاړ رارسېدلي وو.

له دې وروسته له پښتونخوا څخه راغلي میلمانه د یوه پلاوي په ملتیا کندهار ته ولاړل او د لیندۍ پر ۲۷ مه نېټه د کندهار پوهنتون په تالار کې د پیاوړي شعار درویش دراني او نامتو کیسه لیکوال طاهر اثر افریدي قیصر اپریدي په ویاړ په جوړه شوې غونډه کې یې ګډون وکړ. د سیمینار دویمه غونډه د لیندۍ پر ۲۸ مه نېټه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو او کنفرانسونو په تالار کې جوړه شوه، چې درې علمي غونډې یې درلودې.

د "نابغه خوشحال"سیمینار علمي غونډه د علومو اکاډمۍ د رئیس ښاغلي څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکیب په وینا پیل شوه او ورپسې د خوشحال بابا د شخصیت د بېلابېلو اړخونو د روښانولو او د هغه د اثارو د څېړنې په اړه د پوهانو او څېړونکو له خوا علمي ـ څېړیزې مقالې ولوستل شوې. د دغو مقالو په اړه په بېلابېلو غونډو کې د پوهانو له لوري نظرونه تبادله او بحثونه هم پرې وشول.

د سیمینار د وروستۍ ورځې غونډه د لیندۍ پر ۲۹ مه نېټه د جمهوري ریاست په سلام خانه ماڼۍ کې جوړه شوه، چې د هېواد د بېلابېلو علمي، اکاډمیکو او فرهنګي ادارو سلګونو استازو او جګپوړو دولتي چارواکو پکې ګډون کړی و. دې ناستې ته د افغانستان د اسلامي جمهوریت جلالتمآب ولسمشر د خوشحال خان خټک د ژوند، افکارو او کړو وړو په اړه هر اړخیزه وینا وکړه، ورپسې له پښتونخوا د راغلیو میلمنو په استازولۍ د پېښور د اسلامیه کالج پوهنتون پروفیسر ښاغلي ډاکټر اباسین یوسفزي وینا وکړه او د یوه پرېکړه لیک په لوستو سره سیمینار پای ته ورسېد.

د "نابغه خوشحال" سیمنار علمي کمېټې له ما څخه هیله وکړه، چې ددې سیمینار مقالې راټولې او د اوډون، سمون او اهتمام چارې یې پای ته ورسوم، چې په راتلونکې کې د څېړونکو او ځوان نسل لپاره د خوشحال خان خټک د ژوند او اند په اړه یو علمي- څېړنیز ماخذ شي. ما په سیمینار کې د لوستل شویو مقالو له لیکوالو سره د مقالو د ترلاسه کولو لپاره اړیکې ونیولې، د سیمنار نږدې ټولې مقالې او د سیمنار په اړه د اکاډمیکو ادارو پیغامونه مې ترلاسه کړل او په دې ټولګه کې مې ځای پرځای کړل، خو له ښاغلي پوهنوال بریالي باجوړي او ښاغلي ډاکټر محب وزیر سره له ځو ځله اړیکو نیولو سره سره زه په دې ونه توانېدم، چې د ښاغلي باجوړي

مقاله او له ښاغلي وزیر څخه د باچا خان پوهنتون هغه پیغام چې نوموړي لوستلی و، تر لاسه کړم، نو له بده مرغه چې د سیمینار یوه مقاله او یو پیغام په دې ټولګه نشته.

په دې علمي- څېړنیز سیمنار کې د خوشحال خان خټک پر ژوند، اثارو، افکارو، مبارزو او نورو برخو باندې پوهانو ښې څېړنیزې مقالې ولوستلې. د دې ټولګې د مقالو اهمیت په دې کې دی، چې د خوشحال خان خټک د ژوندانه ، سیاست، مبارزو، اثارو، فکر، شعرو شاعرۍ او خاطرو په اړه ډېر نوي معلومات پکې ځای پر ځای شوي چې د خوشحال مینه والو، څېړونکو او محققینو ته د یوه غوره ماخذ په توګه کار ورکوي. همدغه اهمیت ته په کتو د افغانستان د علومو اکاډمي د نابغه خوشحال د سیمینار د مقالو دا ټولګه چاپوي په دې هیله چې پوهان او مینه وال ترې ګټه واخلي.

د ټولګې په اوډون، سمون او اهتمام کې مې تر خپل وسه هڅه کړې، خو که بیا هم په کوم ځای کې کومه تېروتنه شوې وي، په اړه یې له ټولو درنو لوستونکو څخه ښښنه غواړم او تاسو ددې ټولګې لوستو ته رابولم.

په درنښت

څېړنوال رفیع الله نیازی